محمد اياز نوري
٢٠١٥/٠٢/١٥

د شوروي اتحاد د يرغل پر ضد جهاد او ولې بد بخته پايله

نن بيا د مرغومي (دلوي) مياشتې ٢٦ نيټه ده. د ١٣٦٧ لمريز کال په همدې ورځ د وخت د شوروي اتحاد وروستی سرتېری، پس له لسو کلونو نيواک، زمونږ له مظلوم افغانستان نه ووت. دا وخت لا چې حکومت د ډاکټر نجيب الله تر قيادت لاندې په هيواد کې موجود وه. دې رژيم نور هم دري کاله له ځانه دفاع وکړله او بلاخره د ١٣٧٠ل کال د غوايي (ثور) د مياشتې په اتمه نيټه يې سقوط وکړ او حکومت د مجاهدينو د مشرانو په لاس کې، چې د پاکستان په هيواد کې پراته ول ولويد. دغو د شوروي د يرغل پر ضد د جهاد سر خيلو وروسته بيا صرف او صرف د دولتي قدرت پر ويش دومره په خپل منځ کې سره وجنګېدل، چې شکلی کابل يې له خاورو سره برابر کړ او د تخمين پر بنسټ يې تر ٦٥ زرو د کابل بې ګناه او بې غرضه اوسېدوونکي وژل او ټپيان کړل.

ولې د دې ملي مبارزې پايله داسی له ملي مصيبته ډکه راووتله؟

زه يې له تاريخي بهير څخه داسی شننه کوم. په کال ١٣٥٢ل د چنګاش په ٢٦ نيټې کله، چې د افغانستان وروستی پاچا اعليحضرت محمد ظاهرشاه د بهر په سفر د ايټاليا په هيواد کې ميشت وه، د هغه د تره زوی او پخواني صدراعظم په يوه پوځي عمل لاس پورې کړ او بدون د کوم مقاومت نه يې حکومتي قدرت ترلاسه کړ. داوود خان جمهوري نظام اعلان کړ. که مونږ د داوود خان پخوا ته مراجعه وکړو، دئ د شخصيت او خوی په لحاظ فعال او د هيواد پر مخټګ ته ليول يو افغان وه. هغه په خپل پنځه کلن لنډ دولتي واک کې هم غوره او د قدر وړ اقتصادي او ټولنيز پلانونه تر اجراء لاندې نيولي ول. سوله او امنيت په ټول هيواد کې حاکم ول او ګاونډي ملکونو سره هم داوود خان توانېدلای وه، چې معقول اړيکي وساتي. د خلکو له پټې نه هيڅ داسی غوښتنه او ورانکاري د هغه د اقتدار پر ضد موجوده نه وه، دلته وه، چې که څه هم دئ د کودتا له طريقه واک ته رسېدلی وه ليکن ملي مشروعيت يې ځان ته حاصل کړئ وه.

په کال ١٣٥٤ل کال کې د افغانستان د اخوان المسلمين د حرکت دوو مشرانو ګلبدين حکمتيار او برهان الدين رباني او ورسره يو بل قوماندان احمد شاه مسعود د خپلو شخصي عقدو، ځان غوشتني او بلاخره ملي ورانکارئ پر اساس د داوود خان د حکومت د تعقيب له عمله يې هيواد پرېښود او ګاونډ پاکستان ته وتښتېدل.مهمه نقطه دلته دا ده، چې دغو دريو کسانو پاکستان ته په رسېدو د کوم غيرتي پشتون په کور کې پناه وانخيستله، بلکې مستقيما يې د پاکستان دولتي مقاماتو ته لاسونه پورته ونيول او ورته يې عرض وکړ، چې مونږ دغه دري کسه افغانان تاسو ته تسليم يو او تاسو مونږ ته جګړه ايز تعليم رازده کړئ او وسله راکړئ، مونږ حاضر يو د خپل حکومتي مشر داوود خان سر پرې کړو او تاسو ته يې راوړو. د پاکستان دولت، چې له خدايه داسی ملي خيانت ته تيار افغانان غوشتل، دا دري کسان يې کلک په غېږ کې ونيول او د پشتونخوا ايالت د پېښور په سکندر پوره کې يې په پوځي کمپ کې د تخريبي روزنې لاندې ونيول. ورپسې دا دري کسان د داوود خان د حکومت پر ضد عملا ښېرته هيواد ته راغلل او په پنجشير او لغمان کې يې پر دولتي موسسو يرغلونه وکړل، ليکن د حکومت د مسوولينو له خوا ورسره سخت مقاومت وشو او دوی ناکام ښېرته د پاکستان هيواد ته وتښتېدل.

ورپسې د ١٣٥٧ل کال د ثور په ٧ نيټه افغان کمونيستانو پوځي کودتا وکړله او بريالي شول، چې د داوود خان ځوان جمهوري نظام ساقط کړي او دغو د اخوان او نورو په ظاهر اسلامي مشرانو ته شه موقع په لاس ورغلله، چې د پاکستان د حکومت او د نړی د نور دولتونو پام ځانته راجلب کړي. کله، چې شوروي دولت په کال ١٣٥٨ل د جدي په ٦ په پوځي يرغل افغانستان لاندې کړ او خپل لاس پوځی حکومت يې مستقر کړ، نو د اخوان او نورو مذهبي ډلو غواوی بيا پسې لنګې شولې او ټوله لوديځه نړی په ټول مادي قوت افغان جهادي مشرانو ته راحاضره شوله. ليکن بيا ستونځه او کمبختي د افغان ملت دلته وه، چې دا ملي مبارزه د شوروي د نيواک پر ضد د نورو بهرنيو قوتونه په ذريعه مخ ته ولاړله.

زه اوس دلته يو تاريخي پرتله ذکر کوم:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان ملت د انګريزي استعمار سره په ۱۹ پيړۍ کي دري آزادي غوښتونکي جګړي ترسره کړلي. زه به دلته د افغان-انګريز دريمه جګړه مثال راوړم.
که په دغه جګړه کي، چې قيادت يې غازي اعليحضرت امان الله خان کاوه، داسې شوي وای، چې فرضا پاچا امان الله خان د جهاد د اعلان نه مخکې لومړۍ مثلا د ايران يا شوروي هيواد ته تښتېدلای وای او هلته يې دغه دولت نه په سرکوزی او بی غيرتی سره معنوي او مادي مرسته تر لاسه کړي وای او بيا يې حتی انګريزانو نه د هيواد استقلال هم حاصل کړئ وای، نن به د افغانستان ملت په دومره قدر او درنښت نه يادولی او د آزادي هغه ټول امتياز به د هغه هيواد په قبضه کې وای، چې امان الله خان ورنه پناه او مرسته اخستی وه، ليکن لکه څنګه، چې تاريخ ګواه دئ، غازي پاچا امان الله خان له خپل د کابل د ارګ حتی بی ځايه نشو د عيدګاه د جومات نه يې د هيواد د آزادي لپاره د جهاد امر صادر کړ، د لوی خدای په نصرت بريالی شو او د هيواد آزادي يې د پردي ملک د احسان نه پرته راحاصله کړله اوتر څو، چې افغانستان موجود وي د هر سالم وجدان افغان به يې نوم په قدر او ويار يادوي او هغه څوک، چې د پرديو په پيسو له پرديو خاورو نه د آزادي د جهاد تيږي په ټټر وهي انجام به يې داسې وي، لکه دغه د افغان جهادي مشرانو، چې په پاکستان او ايران کي تسليم پراته ول .
په دې ترتيب مونږ افغانان د هيواد د تاريخي بهير ته په مراجعه کولو په واضحه توګه ګورو، چې د هيواد د ننې ملي مصيبت نژدې مسوولیت د افغانستان د کمونيست او اخواني او نورو ابن الوقته مذهبي-جهادي مشرانو پر غاړه دئ او ملت ورنه حساب غواړي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ